مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۸/۱۲

لتون

څوک وي د زړه په ستر ګو ړوند ، په غوږو کوڼ
چا وي پرانستـــــــــــــي ، خپلي ستر ګي د لټون

څوک وي ډوب شوی ، د اســـــــــراو سمندر کې
څوک وي حســـاب په شمیر د مړو، کې په ژوندون

څوک په رمز او اشـــــــــارت باندی ، رسیږي
څوک هوښیـــــــــــار نشي ، په سل رنګه بدلون

څوک مکتب ، د روزکار څخه استـــــــــاد شي
څوک سړی نه کړي ، تعلیـــــــــم ، د افلا طون

په زرګونو افســـــــــــــانو به، بیدار نشي
په هـــــــــــغو چي ، جوهر نه وي د سمون

په سرنای د اســـــــــرافیل به، هم ویښ نه شي
چي نشـــــــــــــــه په هغو نه وي، د پاڅون

عبـــــــــــــارت د هرې پانې، یو دیوان دی
که عبرت سترګي کړې خلاصـــــــــي، په ګردون

معرفت ډیوي تیاري کړلي ،روښـــــــــــــانه
چې د جـــــــــــــهل په تیارو شو ، سباوون

پنجرو کې، د اوهامـــــــــــــو مونږ ایسار یو
جـــــــــــــهالت څخه مو نشته دی ، خلاصون

لا تر اوسه مـــــــــــــو ژوندون ، د مغارو دی
بدوی ژوند څـــــــــــــخه ، نشته زمونږ بیلتون

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ